مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۱/۰۹/۱۰

# ماښامی مجلس

# (۹)

حجرې ته له راننوتلو سره سم يې ووېل:
السلام عليكم يا اهل القبور!
ما ويل و انديواله! چرس دي څکلي، ښکاوه دي ښبلي؟ دا څه وايي، دا حجره درته هديره او زه درته مړی ښکارم؟
دواړو غوږونو ته يې لاس کړ: توبه، توبه!
خدای دې دا حجره نه هديره کوي او نه دې تر ډېره ژوندی يې.
-ښه، نو کيسه څه وه؟
-نن مې ټوله ورځ په هديره کې تېره کړې، هر قبر ته جلا جلا درېدم. شهيدان راته ډېر خوشاله ښکارېدل.
-ته اوس څه د کشف القبور دعوې کوې، په کوم کرامت ؟ خدای خبر که دعاء قنوت دې هم پوره زده وي.
-های ناځوانه، دا خبره بل چيرته ونکړې، په جنجال به مي واړوې. وروره، باور وکړه چې هر قبر ته به ودرېدم، لکه د حال په ژبه چې خوښي ځرګندوي.
-نو تا څه د جنت زيري ورکول!
-نه کنه، ته خو اطرافي سړی يې له کابل ښاره څه خبر يې. په دې ورځ به د شهيد اونۍ په نوم ښار کې درز غوبل جوړ و. وسلوالي ډلې به داسې انداز کې ګرځېدې چې ښاريانو کې به له ويرې ساه نه وه.
ښه مې ياديږي؛ د خيرخانې قلعه نجارا کې يو سړی په اولاد ناروغي ميرمنې سره ټکسي ته راوخوت. همدا يې ويل: زود برو استاذ که مريض در خطر است.
خو زه د دې اوباشانو د موټرو په منځ کې را ګير وم، کله چې به دوی په ماشي ګوته کېښوده، عقب ښيښه کې به ميرمن داسې ښکاره شوه، لکه تر شفاخانې چې و نه رسيږي.
په هغه ورځ چې د ناروغي ميرمنې خاوند ډېر عصباني شو، نو د دې کوڅه ډبو وسلوالو تر څنګ يې آن شهيدانو ته هم کنځلې وکړې.
ما ويل: نو هغه وخت حکومت نه و، پوليس نه ول؟
-ښه پريمانه وو، خو چا جرئت نشو کولای. هېر دې شول، د جنرال خوشال سادات کسانو چې له همدې اوباشانو څخه يو څو ته وډبول، بيا تر اخره د سمې دندې ښبنتن نشو.
دوی دومره بې پاسه خلک و چې منځ ښار کې يې آن د برحال ولسمشر په عکس ډزې وکړې.
-اخر، له دې کارونو يې هدف څه و؟ ولې خپلو هوښيارو او د مدني حقونو ټيکه دارانو مشرانو يې په مقابل کې څه نه کول؟ د دوی مشرانو خو نور قومونه د ( مثنوي معنوي) مطالعې ته رابلل.
-ساده کيره مه، دا حرکتونه يې اصلاً د مشرانو په خوښه ول. خپل زور يې ښوده او په دې توګه يې ناروا غوښتنې تحميلولې.
-نو دا زورور اوس چيرته دي؟
-همدې ښار کې دي، خو اوس داسې عاجزه عاجزه ګرځي لکه د هوټل شاګردان.
تا نه دي اوريدلي:
«پيدا کړی خدای د سر لپاسه سر دی»
پورته شو ، ډکه خوره پياله يې له ګام اخيستو سره چپه کړه او بيا يې ويل: خير دی، د پيالې چپه کيدل، روښنايي ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ما ویل: روښنایي خو به وروسته معلومه شي شپه لا ډېره اوږده ده، خو زه دې نغد یوه کاشوغه بوره هسې تاواني کړم.
موسک شو: چې کار مې پیدا کړ او یا مې له بانک معاش ترلاسه کړ، نیم من بوره ځان ته او نیم من تاته اخلم. پرون مې واړه ځوی ویل: پلاره، یو له چای سره ډوډۍ شي او بل چای هم تریخ وي، هیڅ مې نه تیرېږي.
قنداني کې پاتې بوره مې ژر ژر پلاستیک کې ور غوټه کړه او ور مې کړه، داسې خوشاله شو لکه زوی ته چې یې بایسکل اخیستی وي.
د وتلو وخت کې یې مخ راواړو: د ټولو هیوادوالو ترخه حلقونه دې خدای خواږه کړي.
ما ویل: امین ثم امین.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ